شاه‌ولی ارین
۲۰۲۶/۰۳/۱۹

# ډاکتره به شي

## (لنډه کیسه)

تر واده وروسته له خورا ستونزو سره مخ وم، میرمن مې ناروغه وه، داسې اوني نه وه چې یو دوه ځلې به روغتون ته نه تلم، روغتون مو دویم کور ګرځیدلی و.

بله کم بختي مو دا وه، چې د میرمن مې اولاد نه کېده، که ریښتیا ووایم نه رانه زیارت پاتې و، نه ملا او نه هم پیر، په درملو او ډاکترانو پسې په تګ راتګ خو دومره ستړی شوی وم، چې پوښتنه یې مه کوه.

ریښتیا چې مېرمن مې هم نور دومره ستړې او نا هیلې شوې وه او له هر څه یې نور زړه صبر شوی و، کله نا کله به یې د ځان له پاره د ژر مرګ لاسونه هم پورته کول.

هو! حقیقت دا دی، کله چې به مو کوڅو کې ماشومان لیدل خورا نور به هم ډېر دردیدلو، حتا دا چې د دوستانو کورونو ته به مو د تلو او راتلو اراده هم نه درلوده، ځکه هلته به مو کله چې د هغوي ګلالي ماشومان لیدل زه خو په هر صورت، خو میرمن به مې خورا ځورېده.

عجیبه حادثه پیښه شوه، مېرمن مې هسې بیخوده شوه، ناري سوري یې پیل کړی چې سر مې راباندې ګرځي او زړه مې هسې بد ـ بد کېږي.

د کور په څنګ کې مو بوډۍ ترور ګلسیمه اوسیده، زړه نا زړه ورغلم، ورغږ مې کړ، خدای دې ورته خیر ورکړی په منډه راغله، څو شیبې مې میرمن او ګلسیمه ترور سره پسیدلي، خاله مسکی ـ مسکۍ کیده نور یې راته څه ونه ویل، دومره یې د تګ په ورستیو شیبو کې راته وویل: چې سبا، تاترینه یوې ښځینه ډاکترې ته بوزه چې ویې ګوري تر څو یې ستونزه معلومه کړي، چې څه ده.

سبا وختې د ولسوالي روغتون ته ورغلو هلته د ملک هاشم کاکا لور سپوږمۍ هم ډاکتره وه، هغه مو پیدا کړه، خدای پاک دې ورسره ښه وکړي، معاینات یې تکمیل کړل او د خوشالۍ زېری یې راکړ، چې تاترینه اومیندواره ده او په خندا یې راته وویل چې:

«کاکا جانه هلک غواړی که نجلۍ؟»

بې له سوچه مې له خولې ووتل، کاکای ځار شي، لورکۍ غواړم چې ستا شانته ډاکتره شي او ستا په شان د خپلو خپلوانو او نورو خلکو خدمت وکړي.

ریښتیا وروسته له ډېرو غمونو او کړاونو مو پر شونډو موسکا خپریده هیلې مو غوړیدې او بې صبرانه موانتظار ویست، چې کله به وخت پوره کیږي او غیږې به مو پر ماشوم ډکیږي.

ریښتیا هغه ورځ رانږدې شوه، خدای تعالی په کور کې د خپل د نعمتونو څراغ را روښانه کړ، لور مو په برخه شوه، میرمن مې جوړه تیاره شوه، ټولې ناروغۍ یې له یاده ووتې.

که ریښتیا ووایم موږ خو لا څه کوی، حتا ګاونډیان مو هم خورا خوشاله شول، ټولو ویل چې یو ښه د خوشالۍ محفل ونیسه، ما او مېرمن مې له ډېر سوچ وروسته په ګډه د ماشومې له پاره د غوټۍ نوم کیښود.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولۍ

غوټۍ ورځ تر بلې مخ په غوړېدو وه، د ګاونډیو غوښتنه مو هم پوره کړه، د شیرمي شپې له پاره مو ښه بندار جوړ کړ، ټوله شپه مو په خوشالیوو سبا کړه.

غوټۍ د وخت په تېرېدو شپږ کلنه شوه، اوس نو د دې وخت رارسیدلی و، چې په ښوونځی کې یې د زده کړو له پاره شامله کړو.

غوټۍ خورا خوشاله وه، په شوق او مینې ښوونځۍ ته تله راتله، مور یې تل الله پاک ته لپې پورته کولې او ویل به یې:
«چې خدایه لور مې ډاکتره کړې!»

ځکه چې د ملک هاشم کاکا لور چې ډاکتره وه او په روغتون کې به یې له هر چا سره مرسته کوله، هسې یې هر چېرې نوم یادیده او خلکو به یې صفتونه کول، نو ځکه مېرمن مې هم غوښتل چې لور یې ډاکتره شي.

غوټۍ د تعلیمي کال په پای کې په ازموینو کې ښې نمرې واخیستې او په لومړۍ درجه بریالۍ شوه. ما او مور یې هم د هغې خیال پوره ساته، هغې هم خورا زیار ویسته چې ښه لوست ووایي لوړې نمرې واخلي پوهنتون ته لار پیدا کړي او ډاکتره شي.

لومړنۍ او ثانوي دوره یې په بریالیتوبه سره پای ته ورسوله، د کانکور ازموینه یې تر سره کړه، خدای یې د مور سوالونه، زما او د غوټۍ غوښتنه په خپل دربار کې قبوله کړه، د لوړو نمرو په اخیستلو سره غوټۍ د طب پوهنځۍ ته بریالۍ شوه.

حقیقت خودا دی، چې غوټۍ زموږ د ژوند او کور په هره برخه کې نوښتونه راپه برخه کړل.

سره له دې چې له هرې خوا نه، ناخوالو، جګړو، وژنو، بدامنیو او سلګونو نورو بېلا، بېلو ستونزو پر هېوادوالو د غم او اندیښنو جال غوړولی و، هېواد مو د امریکایانو او ناټو غړو هېوادونو تر اشغال لاندې و، داسې ورځ به نه وه، چې تر سلو نه زیاتو انسانانو د نارینه، ښځینه او ماشومانو په ګډون به خپل خوږ ژوند له لاسه نه ورکاوه، ډېرو کوښښ کاوه چې یوه نه یوه لاره پیداکړي تر څو له هېواده ووځي.

دغوټۍ یوه ټولګیواله شمایله او کورنۍ یې له هېواده ووتل او ترکیې ته کډوال شوول، شمایلې به هره ورځ له غوټۍ سره په تیلیفون کې خبرې کولې او ورته به یې ویل:

«ای لېونۍ هلته څه کوې، را ووځې، بله ورځ به خدای مکه مړه شئ، دلته ښه ژوند دی، دا دی زه خپل لوست ته دوام ورکوم ».

د شمایلې د تیلیفون وروسته غوټۍ راته وویل:

«پلار جانه هر څه د خدای له جانبه دي، هره ستونزه به تېروو، خو داچې پوهنتون شته، زده کړې دوام لرې هیڅ چېرې نه ځو.»

د لوی خدای فضل شو، امریکایان او ناټو پسې وتښتیدل، هېواد مو خپلواک شو، طالبان راغلل، په ټول هېواد کې سوله راغله، وژنه، ورانونه، چور، چپاول او پاټکونه له منځه ولاړل، لوی امپراتوریګانې او د قدرت جزېرې ړنګې شوې، د هېوادوالو امیدونه وغوړیدل، خو زما د غوټۍ هغه وعده چې ما ورسره کړې وه، هغه له خاورو سره خاورې شوه.

هو! هغه وعده چې« ډاکتر به شې.»

طالبانو د نجونو له پاره د شپږم ټولګي نه پاس زده کړې او پوهنتونونه تر ثاني امره پورې وتړل، بیا هم موږ انتظار کاوه چې نن یا سبا به د زده کړو دروازې پرانستل شي، دوه کاله تیر شول، بیا هم دروازې بندې پاتې شوې.

اوس نو له ترکیې نه د شمایلې تیلیفونونه له یوې خوا، د غوټۍ او د هغې د مور ژړا اوسورې له بله خوا او زما وعده له غوټۍ سره چې:

«ډاکتره به شې» له بلې خوا دې ته اړویستو چې د خپلې لور د زده کړو د پای ته رسولو په خاطر خپل ګران هېواد پرېږدو او کډوالۍ ته مخه کړو.

کور او نور څه هست او بود مو چې درلودل خرڅ مو کړل او د قاچاقبرانو لومې ته ولويدو، خو بيا هم د ډېرو کړاونو او سختيو سره ـ سره ترکيې ته واوښتو.

غوټۍ خورا خوشاله وه چې له خپلې ملګرې او ټولګيوالې سره به يو ځای شي، خو شمايله او کورنۍ يې له ترکيې نه جرمني ته تللي وو.

کله چې د شمايلې او غوټۍ اړيکه سره ټينګه شوه، هغې بيا تشويق کړه چې جرمني ته بايد ولاړ شو، خدای شته چې دوه زره ايورو يې هم د پور په توګه موږ ته راوليږلي، هغه قاچاقبر سره يې معرفي کړو چې دوي يې جرمني ته استولی وو.

رينښتيا زما له پاره خورا سخته غمېزه وه، ځکه په واټونو نور هم د خپل ګران هېواد نه لرې کيدم، سوچ مې کاوه، چې بيا به زه او زما کورنۍ خپل پلرنی ټاټوبې ته راګرځو او کنه؟.

کله چې قاچاقي بېړۍ ته ورختو په بېړۍ کې کسان زيات شول، قاچاق بر او د بېړۍ کس وويل چې که څو کسه ترې کم نه کړو، د بېړۍ د غرقيدو امکانات شته، نو ويې ويل:

«چې ماشومان او ښځينه به اوسي». نارينه اته کسه يې له بېړۍ نه را کوز کړل چې سبا به دغه وخت بيا راځئ او حرکت به کوو، هلته به له خپلو کورنيو سره بېرته يو ځای کېږو.

خدای شته ما خورا نارې سورې هم وکړې، خو چا مې غږ وانه وريد، بېړۍ حرکت وکړ، موږ بيرته راستانه شوو.

سبا چې په ټاکلی وخت راغلو، نه بېړۍ وه او نه قاچاقبر و، دوه درې ورځی مې هسې په تنکسه کې تېرې کړې، شمايلې ته مې ټيليفون وکړ، چې له قاچاقبر نه خبر واخلي، هغې هم هر څومره چې اړيکه نيوله قاچاقبر لادرکه و.

اونۍ وروسته مې د ستر او په خپل ژوند کې نه هېريدونکی د غم خبر واوريد، چې هغه بېړۍ په بحرکې غرقه شوې او زما غوټۍ او مور يې د بحر د کبانو خوراک شوې او زما هغه وعده چې «ډاکتره به شي» نيمګړې پاتې شوه.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ